# نړیوال ښه راغلاست مرکز
# د تاریخ او ټولنیزو علومو (سائنس) آزموینو لارښوونه

**د ازموینی موده**

په ازموینه کې ګڼ انتخابه ځوابونو په طرز 20 پوښتنې شاملې دي.

**د پوښتنو ډول**

ټولی پوښتنی ''ګڼ انتخابه'' دي. دا په دې معنی ده چې تاسو به یوه داسی پوښتنه وګورئ چی ممکن ډیر ځوابونه ولري. ممکن یوه پوښتنه تر شپږو پورې انتخابه ولري مګر په عمومی ډول به څلور انتخابه لري.
تاسو باید د دې اختیارونو څخه یوازی یو د سم ځواب په توګه انتخاب کړئ (A بیلګه). ځینې وختونه، تاسو ته به لارښوونه وشی چی دوه یا ډیر سم ځوابونه انتخاب کړئ.
(B بیلګه).

برسیره، ډیری پوښتنې د ازموینې ورکوونکی څخه غواړي چې پوښتنې ته د ځواب ورکولو لپاره ورکړل شوي انځور وکاروئ یا نقشی ته مراجع وکړئ. (C بېلګه)

**A بېلګه**

د روم د لومړي امپراتور په توګه د سولې دوره چا رامنځ ته کړه؟

A. پومپی (Pompey)

B. جولیس سی سیزر (Julius Caesar)

C. اګستاس سیزر (Augustus Caesar)

D. مارک اینټونی (Mark Antony)

سم ځواب C دئ

**B بېلګه**

کوم ډیموکراتیکی اصول په لرغوني Athens (اتن ښار) کې په لومړي ځل رامنځ ته شوي وو؟

A. د منصفه پلاوي لخوا محاکمه

B. عامه بحث

C. جمهوریت

D. د یو تبعه یا اوسیدونکی دندې

E. مستقیمه ډیموکراسي

F. بې ګناه تر هغه وخته پورې چې مجرم ثابت نشي

سم ځوابونه: B, D, E دي.

**C بېلګه**



**پورته ښودل شوې پخوانۍ لیکل شوې ژبه د کوم تمدن ځانګړتیا ده؟**

**A.** سمر
**B.** هند
**C.** مصر
**D.** فینیشیا

سم ځواب C دئ